د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

کندهار پوهنتون

د ژبو او ادبیاتو پوهنځۍ

# په نکاح کې د زوجینو(خاوند او میرمنې)حقوق

ترتیب کوونکی: محمد رضا (نبي زاده)

لارښود استاد: پوهنیار مفتی مغفورالله(حکیمي)

## د ښځې او خاوند حقوق:

د اسلام په مبارک دین کی د ښځې او خاوند لپاره ځانګړي حقوق په ګوته شوي دي، چې هر یو یی له میره او ښځې څخه مکلفیت لري، چې مقابل لوري ته یی تادیه کړی، چې دغه حقوق په لاندی توګه ذکر شوي دي.

### لومړی د ښځې حقوق:

الله تعالی د خپل ځانګړي حکمت پر اساس په کورني ژوند کې د خاوند او میرمن دندې او مسوولیتونه معلوم کړي دي تر څو د دواړو تر منځ ژوند په سکون، اطمنان او آرامی سره تېر شي، اسلامي شریعت په خاوند د میرمن لپاره دوه ډوله حقوق ټاکلي دی، مادی او معنوي حقوق چې په لاندې ډول دی

### الف: مادي حقوق:

د ښځې پر خاوند باندې مالي یاهم مادي حقوق دي لکه: مهر، نفقه، او استوګنځای،

۱. مهر: د ښځې هغه مالي حق ته ویل کیږي چې په خاوند باندې د نکاح په عقد یا له هغې سره په جماع او خلوت کولو لازمیږي، مهر ته صداق او فریضه هم وایي.

د مهر د لازمیدو دلایل: الله تعالی په قرانکریم کې فرمایلي دی(و أتوا النساء صدقاتهن نحلة) (النساء۴آیت)

ژباړه: او د ښځو مهر په ښه زړه (فرض ګڼلی) ورکوئ.

پیغمبر(ص) فرمایلي دي،(من کشف خمار امرأة و نظره الیها فقد وجب الصداق دخل بها اولم یدخل) (البغدادي،۱۳۸۶ه، ۹ټ،۱۰۰م)

ژباړه: چا چې د خپلې میرمنې ټیکری ایسته کړ او ورته یی وکتل په ده باندې مهر لازم شو، کوروالی یی ورسره کړی وي او کنه.

۲. نفقه : هغه مال چې څوک یې پر نورو مصرفوي نفقه بلل کیږي، او په اصطلاح کې هر هغه شی چې یو سړی یی پر خپله ښځه، اولادونو، خپلوانو او نوکرانو په لګښت لګوي نفقه بلل کیږي(خوراک،څښاک، جامې او د اوسیدلو ځای) په نفقه کې شمارل کیږي (الجزیری، ۱۴۳۴ه، ۴ټ، ۴۸۵م).

د اسلامي امت د علماوو په دې باندې اتفاق دی چې د ښځې نفقه په میره باندی فرض ده، ځکه چې د نفقې پیدا کولو لپاره د کور څخه د باندې وتل د نارینه وو کار دی نه د ښځې، او خاوند به خپلې ښځې ته د اقتصادي توان موافق نفقه برابروي، الله تعالی فرمایي:(و علی المولوله رزقهن و کسوتهن باالمعروف)(البقره۲۳۳) ، یعنې په دې صورت کې به د ماشوم پلار په ښه توګه هغوی(مور او ماشوم) ته په ښه توګه خواړه او جامې ورکوي.

او په یو حدیٍ شریف کې چې له جابر (رض) څخه روایت دی چې رسول الله(ص) په حجة الوداع کې وفرمایل ...او د هغوی پر تاسې باندې دا حق دی چې هغوی ته په ښه شان نفقه او د استوګنې ځای برابر کړئ (رواه مسلم۱۲۱۸).

د نفقې اندازه : کله چې ښځه او خاوند سره اوسیږي خاوند باید دومره نفقه ورکړي چې د ښځې لپاره کفایت وکړي که همدغه اندازه په دوامداره توګه ورکړي نو، ښځه باید له دې زیاته نفقه ونه غواړي او که چېرې خاوند بخیل وی او خپلې ښځې ته کافي اندازه نفقه نه ورکویدغه ښځه کولای شي له محکمې څخه خپله کافی اندازه نفقه وغواړي.

۳مسکن(استوکنځی): میرمن دپه خپل خاوند باندې حق لري چې د اوسېدو یو مناسب ځای ورته برابر کړي الله تعالی فرمایلي دي،(اسکنو هن من حیث سکنتم من وجدکم)(سورة الطلاق،۶آیت)

ژباړه : هغو ته په هماغه ځای کې استوګنه ورکړئ چیرته چې تاسی اوسئ، هر راز ځای چې تاسی ته میسر وي.

شرعي استوګنځی لاندې شرطونه لري.
١ د ميره د اقتصادي حالت سره به برابر وي، مستقل کور وي او په شريک کور کې به يوه کوټه وي.
٢ په دغه ځای کې به دوی دواړه يواځې اوسيږي،د خاوند او يا ميرمنې خپلوان به ورسره نه وي.
٣ د کور لوازم(فرش،بستره، د پخولو، د خوراک او څښاک لوښي،غسل خانه او داسې نور لوازم به يې پوره وي.
۴ د صالحانو او نيکانو ګاونډيانو تر منځ به وي تر څو د ښځې نفس او مال په کې په امن وي، او خاوند نه شي کولای چې خپله ښځه د نورو خپلوانو سره په يوه کوټه کې يو ځای ژوند کولو ته مجبوره کې .
۴ لباس(جامې): ميرمن پر خپل خاوند دا حق لري چې شرعي لباس ورته برابر کړي، فقهاوؤ ويلي دي چې په کال کې د مېرمنې دوه جوړه جامې پر خپل خاوند حق دي، چې يوه يې د اوړي او بله يې د ژمي لپاره دي، لباس يې بايد بشپړ وي لکه، ټيکری،قميص، پرتوګ و غيره...(السيواسی،١٣٩١ه،٣ټ،۵۴ص).
## ب:معنوي حقوق:
اسلامي شريعت نه يوازی دا چې پر خاوند د ښځې مادي حقوق لازم کړي دي بلکې تر څنګ يې معنوي حقوق هم پرې وضع کړي دی چې پع لاندې توګه ورڅخه بحث کيږي.
١ د ميرمنو تر منځ مساوات: که چيرې يو سړی داسې وي چې تر يوې زياتې ميرمنې ولري نو پې لازم دي چې د دوی تر منځ په خوراک او شپې تيرولو کې عدل او بربروالی مراعت کړي که چېرته يوې ته تر بلی کوم امتياز ورکړي او د ده په وس کې وي نو ډير زيات ګنهکار دی، او دی اړه رسول الله(ص) ډير زيات احاديث راغلي دي.
٢ غوره سلوک او نيک تعامل: پر خاوند باني لازم دي چې د خپلي ښځې سره مشروع او معقول ژوند وکړي، له هغې سره شريفانه چلند وکړي او زيان ورته دونه رسوي، الله تعالی په دې اړه داسې فرمايلي دي( فامسکوهن بمعروف او سرحوهن بمعروف ولا تمسکوهن ضرارا لتعتدوا ومن يفعل ذلک فقد ظلم نفسه) (سورة البقره، آيت ٢٣١) ژباړه: نو يا يې په ښه توګه وساتئ، يا يې په ښه شان رخصت کړئ، محض د ربړولو لپاره يې مه ايسارو‌ئ چې دا به تيرې زياتې وي، او څوک چې دا کار وګړي هغه به په حقيقت کې پر خپل ځان ظلم وکړي، ميره بايد پر خپله ميرمن مهربان وي، د عزت او احترام په سترګه ورته وګوري د بدئ ځواب په بدو سره ورنه کړي، او نه به هم داسې وهل ورکوي چې هډوکي يې ورمات کړي، الله تعالی په دې اړه داسې فرمايي،(و عاشروهن بالمعروف فان کرهتموهن فعسی ان تکرهو شياً و يجعل الله فيه خيراً کثيرا)(سورة النساء، آيت١٩)، ژباړه: له هغو سره په ښه چلند ژوند تېر کړئ که ستاسو هغوی نه خوښيږي نو کيدای شي چې تاسې به يو شی نه خوښوئ، خو الله به په هغه کې ډېرې ښېګڼې ايښې وي.
٣حفاظت او ساتنه: په دخوند باندې د خپلې ميرمنې دريم حق دادی چې د هغې د عصمت او ناموس ساتنه به کوي دا د غيرت غوښتنه هم ده او الله تعالی ته زيات خوښ او محبوب عمل هم دی.
څرنګه چې په سړي باندی لازم دي چې سړی پر ښځه غيرت وکړي دغسې پرې لازم دي چې په غيرت کې له دمبالغې کار وانه خلي تر کورني نظام درهم برهم نه دشي او بدګماني رامنځته نه شي،(السيدسابق، ١٩٨٧م،٢ټ، ١٨٧م).

۴ کوروالی(جماع): امام ابن حزم فرمایي: خاوند ته پکار ده چې له خپلې میرمنې سره جماع وکړي او کمه موده یی دا ده چې یو ځل په هر طهر کې چې له حیض څخه پاکه شی ورسره یو ځای شي او که دا کار ونه کړي نو ګنهګارېږي، او دلیل یی د الله تعالی دا وینا ده چې فرمایی:( فاذا تطهرن فاتوهن من حیث امرکم الله) (البقره،۲۲۲آیت). ژباړه، بیا چې کله هغوی پاکې شي، نو له هغو سره په هغه شان یو ځای شئ چې الله درته امر کړی دی. جمهور علما د ابن حزم(رحمت الله علیه) وینا تایید کړې ده، بې دې شرط چې خاوند کوم عذر ونه لري، خو بل لوري ته امام ابو حنیفه(رحمه الله تعالی) فرمایی، ((لها لیلة من اربعة لیال)) (الجزایری،۲،۱۴۲۴ق، ۵۰م). یعني میرمن پر خاوند حق لري چې له څلورو شپو څخه یوه شپه ورته ور کړي، کعب اسدی هم د حضرت عمر فاروق(رض) په وړاندې د میرمنې او خاوند تر منځ همدغسې پرېکړه کړې وه، چې هغې ته به خاوند څلورمه شپه ورکوي.

۵ د خلع حق:څنګه چې د ایلام سپیڅلي دین خاوند ته حق ورکړی دی، چې د مېرمنې د سرغړونې او شرعي معاذیرو د موجودیت په صورت کې طلاق ورکړي په همدې توګه الله تاعلی میرمنې ته هم دا حق ورکړی دی چې له خاوند څخه ځان بېل کړي، دغه ډول بیلتون ته د شریعت په اصطلاح کې خلع وایی، چې د خلع تفصیلي بحث به په خپل ځای کې بیان شي.

## دوهم د خاوند حقوق پر میرمنې باندې:

الله تعالی خاوند ته ډیر حقونه ورکړي دي دهغه ډیر درناوی او عزت یې لازم کړی او د هغه خوشحال او راضي ساتل یی ستر عبادت ګڼلی نو له همدې امله یی خفه کول لویه ګناه ده.

رسول اکرم(ص) فرمایلی دی کومه ښځه چې پنځه وخته خپل لمونځ کوي،د رمضان روژه نیسي، پاک لمنې اوسي او د خپل خاوند تابعداري کوي نو هغې ته اختیار دی چې د جنت په هره دروازه ننوزي لاړه د شي. (الاباني فی صحیح اجامع با اسناد صحیح)

خاوند پر میرمن ډېر حقونه لري چې لاندې به ترې په لنډه توګه بحث وکړو.

۱ د شریعت په چوکاټ کې د خاوند احترام او اطاعت: رسول الله(ص) د خاوند او مېرمنې تر منځ د خواږه ژوند تېرولو لپاره ښځه تشویق کړې چې د خپل خاوند خبره ومني او دغه عمل یې د هغې د جنت د مستحق کېدو لامل ګڼلی، او فرمایلی یی دی، (حدیث شریف)(القزوینی،۵، ۱۴۳۰ق، ۴۵۰م) ژباړه، هر هغه مېرمن چې مړه شي او خاوند ورڅخه خوښ او خوشحله وي جنت ته به داخلیږی.

او په بل حدیث شریف کی فرمایی: که د الله (ج) څخه بغیر بل چا ته سجده کول رواه وای نو ما به ښځو ته حکم کړی وای چې خپلو حاوندانو ته سجده وکړئ، په هغه ذات می دې قسم وي چې زما روح یی په لاس کې دی، یوه ښځه تر هغې پورې د خپل رب حق نه شي ادا کولای چې تر څو یی د حپل خاوند حق نه وي ادا کړی، که ښځه په اوښ سپره او په سفر روانه وي او خاوند یی ځان ته راوغواړي باید ممانعت ونه کړي.

۲د خاوند په کور کې اوسېدل: کله چې خاوند د خپلې میرمنې لپاره خپل شرعي مسکن برابر کړي مهر ورته پوره ورکړي نو په ښځه باندې لازم دي چې د خاوند سره په کور کې و اوسیږي تر څو خاوند ته د هغه په کور کې اطمنان او راحت اسباب بابر کړي له ضرورت پرته باید له کور څخه ونه وځي.(غندور،۵،۱۴۰۵ق، ۲۷۱م)، ځکه چې الله تعالی فرمایلي دي: ژباړه په خپلو کورونو کې مېشت اوسئ، او د تیر جاهلي دورې غوندې سینګار مه کوئ او بې ستره مه ګرځئ(سورة الاحزاب،۳۳آیت).

په دې ایت کریمه الله تعالی د خپل نبي (ص) د امت ټولو ښځو ته حکم کوي چې په خپلو کورونو کې کینې تر حو پټ او ناموس یي خوندي پاتې شي او د خاوندانو حقوق یې پیمال نه شي(ابن کثیر، ۳،۱۴۱۹ق،۳۰م)

شيخ اسلام ابن تميه (رح) فرمايلي دي ((ښځې ته رواه نه دي چې د خاوند له اجازې پرته له کور څخه ووځي، او نه بل چا ته رواه دی چې د خاوند له کور څخه يې وباسي، او يا يې له خاوند څخه ايثاره کړي، که ښځه تې ورکوونکې (دايه) او يا هم د بل کسب خاونده هم وي، که د خاوند له کوره بې اجازې ووځي بد اخلاقه ناشزه بلل کيږي، دالله تعالی او د هغه د رسول الله(ص) د فرمان ماتوونکې ګناهکاره او د سزا وړ ګڼل کيږي( ابن تميه،(ـــ)،۳۲ټ،۲۸۱ص).

۳د خاوند مشري پر ځان منل: د کورني نظام درست سمبالښت او په سمه توګه د ژوند چارې هغه وخت ممکن دي چې د کور نظام د يو تن په لاس کې وي او هغه هم د چا سره چې توان يې ولريدغه مسوؤليت الله تعالی د سړيو په غاړه اچولی دی او ميرمنې يې مکلفې کړې دي چې خپلو خاوندانو مشري په ځان ومني او فرميلي يې دي : (الرجال قوامون علی النساء...) (سورة النساء، ۲۴آيت). ژباړه: نارينه په ښځو مسلط اداره چيان دي، له دې امله چې اللع تعالی د هغو ځينو( نارينه وو) ته پر ځينو نورو وړتيا وربښلې ده، او له دې کبله چې نارينه خپل مالونه لګوي، نو کومې ښځې چې صالحې دي هغوی د فرمان منني خوی لري او د نارينه وو په غياب کې د الله تر ساتنې او څارنې لاندې د هغو د حقوقو ساتنه کوي.

په ذکر شوی ايت کريمه کې الله تعالی د کور مشري نارينه ته وروسپارله، او هغه يې مسؤل وګڼلو، د دې ايت کريمه څخه د الله(ج) د دين ځينې دښمنان غلط مفهوم اخلي او وايي چې په دې ايت کې سړي له ښځو څخه غوره ګڼل شوي دي او سړيو ته پر ښځو فوقيت ورکړل شوی دی، په ايت کريمه کې [ې د قوام لفظ ذکر شوی دی معنا يې فوقيت او غوره والی نه دی، بلکې قوام هغه چاته وايي چې د يوې کورنی يا اداري نظام د چارو د سم چلوولو، ستنې او څارنې، او د هغو د اړتياوو د پوره کولو مسؤل وي.(المودودي، ۱۳۶۰ه، ۱ټ، ۴۵۹م).

۴د اولاد پالنه او روزنه: خاوند په خپله ميرمن دا حق لري چې د هغه د اولادونو سالمه روزنه وکړي د تې د خوړلو پر وخت تې ورکړي،خواړه ورته تيار کړي غاو پالنه يې وکړي، او پاک يې وساتي.

د ښځې پر خاوند او د خاوند پر ميرمن باندې د حقوق په اړه ډېر الهی او نبوي ارشادات راغلي دي
چې مونږ دهغه څخه ځينې يې دلته بيان کړل او الله(ج) د پر هغه باندې د عمل کولو توفيق راکړي.

**مآخذونه:**


۱. د اسلام ټولنيز او کورنی نظام، صفحه۴۵.

۲. په اسلام کې کورنی ژوند، کتاب.

۳. کتاب آداب خواستگاري و حقوق زوجين، صفحه ۱۱۳و۱۲۳.

۴. جنتی زيور کتاب، صفحه ۲۴۹.


پای

جزاکم الله خيرآ